د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

بُست پوهنتون

اقتصاد پوهنځی ریاست

مالي او بانکي ډیپارتمنت

**د ستراتیژیک پلان فرعي کمیټه**

# د مالي او بانکي ډیپارټمنت پنځه کلن ستراتیژیک پلان

**2027 – 2022 میلادي**

۱۴۰۱

## د مطالبو فهرست

موضوع پاڼه

I.د مالي او بانکي ډيپارټمنټ د آمر پيغام ........................................ 1
II.د مالي او بانکي ډيپارټمنټ لپاره د ستراتيژيکي برنامې چوکاټ: ........................................ 2
IIIمقدمه ........................................ 3
IV.د مالي او بانکي ډيپارټمنټ ارزښتونه ........................................ 3
V.ستراتيژيکي موخې: ........................................ 4
VI.د محيطي عواملو تحليل (SWOT ANALYSIS) ........................................ 5
A.د مالي او بانکي ډيپارټمنټ قوي ټکي ........................................ 5
B.د مالي او بانکي ډيپارټمنټ کمزوري ټکي ........................................ 5
C.فرصتونه ........................................ 5
D.تهديدونه او ننګوني: ........................................ 6
E: د لوړو زده کړو وزارت د ملي ستراتيژيک پلان لومړيتوبونه: ........................................ 6
F: د داخلي محيط د عواملو تحليل: ........................................ 6
G: د باندني محيطي عواملو تحليل ........................................ 7
H: د محيطي (داخلي او باندني) عواملو مقايسه ........................................ 7
I: د سوات (SWOT) ماتريکس جدول: ........................................ 9
J: د مالي او بانکي ډيپارټمنت د ستراتيژيک حالت ټاکنه: ........................................ 11
VII.د مالي او بانکي ډيپارټمنت د راتلونکو پنځو کلونو ستراتيژيک پروګرامونه 11
1.زيربنايي پراختيا ........................................ 11
I.د اداري شعباتو پراختيا ........................................ 12
II.د تدريسي ټولګيو پراختيا ........................................ 12
2.د مالي او اداري برخې پراختيا ........................................ 12
I.عوايد موندونکي پراختيايي پروګرامونه ........................................ 12
II.د تشکيلاتو پراختيا ........................................ 13
4.لوړو زده کړو ته د لاسرسي پراختيا ........................................ 14
I.د جذب د کميت زياتوالى ........................................ 14
II.د محصلانو او فارغانو د مهارتونو د ودې پروګرام ........................................ 14
5.د ښه حکومتولۍ پراختيا ........................................ 15
I.د کميټو ايجاد ........................................ 15
II.د اداري کارمندانو د ظرفيتونو لوړوالى ........................................ 15

6.علمي او څېړنيزه پراختيا ..................................................................................................................... 16

.Iد تضمين كيفيت په برخه كي د ځانګي اعتبار اخيستنه ................................................................................ 16

.IIد علمي څېړنو د پراختيا پروګرام ........................................................................................................ 16

.IIIد علمي ظرفيتونو لوړولو پروګرام ....................................................................................................... 17

7.د ټولني سره د مرستي پراختيا ............................................................................................................ 18

.Iپه سيمه ايز اقتصاد كي د رول د پراختيا پروګرام .................................................................................... 18

.IIد سكالرشيپونو او تخفيفونو پروګرام ................................................................................................... 19

.VIIIد ستراتيژيو د لومړيتوب ټاكنه: .......................................................................................................... 20

.IXد ستراتيژيكو لومړيتوبونو ټاكنه: ......................................................................................................... 23

.Xعملياتي/اكشن پلان ......................................................................................................................... 24

.XIد بوديجې تدوين .............................................................................................................................. 27

## I. د مالي او بانکي ډيپارټمنټ د آمر پيغام

د موثرو او مثمرو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره ستراتيژيکه پلان جوړونه ډيره مهمه او حياتي هميت لري. د دې لپاره چې په اوږدمهال کې خپلې موخې په ښه ډول لاسته راوړو، اړينه ده تر څو يوه ښه سيستماتيکه او پر واقعيت ولاړه ستراتيژيکه پلان جوړونه تر سره کړو.

داچې د لوړو زده کړو بنستونه او اداري د زده کړو او پوهې اصلي مرکزونه بلل کيږي، او د علم او پوهې مينوال پکښې خپل ظرفيتونه لوړوي او خپله علمي تنده پکښې خړوبوي، داچې هيڅ اداره نسي کولای پرته له يوې موثرې ستراتيژۍ او پلان جوړونې څخه خپل راتلونکي بنسټيز اهداف په ښه ډول سره لاسته راوړي نو پر همدې اساس ټول د لوړو زده کړو تحصيلي نهادونه پدې مکلف دي چې د خپلو فعاليتونو د ترتيب او تنظيم لپاره هر اړخيزه پلان جوړونه تر سره کړي.

د اقتصاد پوهنځی مالي او بانکي ډيپارټمنټ چې په ۱۳۹۷ کال کې تاسيس سوی دی تر دې دمه يې ټولنې ته فارغين نه دي وړاندي کړي. مالي او بانکي ډيپارټمنټ د اقتصاد پوهنځی په چوکاټ کې تل کوښښ کوي چې د قانون، اصولو او لوړو زده کړو وزارت د لوايحو او طرزالعملونو مطابق خپلې چارې تر سره کړي او ټولنې ته د خپل لرليد او رسالت په رڼا کې په ښه ډول سره وړاندي کړي.

نو ددې لپاره چې مالي او بانکي ډيپارټمنټ خپلو فعاليتونو ته د عمل جامه ور واغوندي او راتلونکي بنسټيز اهداف په موثر شکل سره لاسته راوړي نو مو لازمه و بلل چې يو هر اړخيز منظم پنځه کلن ستراتيژيک پلان د يادې اداري د فعاليتونو لپاره ترتيب کړو.

نوموړی ستراتيژيک پلان د لاندې شپږو ستراتيژيکو برخو لپاره ترتيب سوی. زيربنايي پراختيا، مالي او اداري پراختيا، علمي او څيړنيزه پراختيا، د ښه حکومتولۍ پراختيا، لوړو زده کړو ته د لاسرسي پراختيا، د ټولنې په انکشاف کې د ونډې زياتوالی. په پای کې د اقتصاد پوهنځی د رئيس، د اقتصاد پوهنځی د ستراتيژيک پلان فرعي کميټې او مالي او بانکي ډيپارټمنت د ټوله پرسونل څخه د زړه له تله مننه کوم چې د نوموړي پلان په ترتيب کې زموږ سره ستړياوي وګاللې.

د يو آباد او سوکاله افغانستان په هيله!

عصمت الله

د مالي او بانکي ډيپارټمنټ سرپرست

## II. د مالي او بانکي ډیپارټمنټ لپاره د ستراتیژیکي برنامې چوکاټ:



## III. مقدمه

پلان او پلان جوړونه د نني عصر د مديريت د علم لارويان د يوي اداري د موخو د لاسته راوړلو لپاره يو آړين ګام بولي او تاکيد کوي چي هره انتفاعي او غيري انتفاعي اداره بايد د خپلو فعاليتونو د ښه تنظيم او پر وخت اجرا لپاره منظمه پلان جوړونه وکړي، نو په همدي اساس مالي او بانکي ډيپارټمنټ هم مناسبه وبلل چي د خپلو راتلونکو انکشافي او پراختيايي موخو د تحقق لپاره پنځه کلنه ستراتيژيکه پلان جوړونه ترسره کړي.

مالي او بانکي ډيپارټمنټ چي په ۱۳۹۷ کال کي د اقتصاد پوهنځي په چوکاټ کي تاسيس سوی، تر دې دمه شاوخوا ۴۰ تنه محصلين لري چي د شپږو تنو با تجربه استادانو له ورته تدريس کيږي.

سمالي او بانکي ډيپارټمنټ محصلين د پوهنځي په سطحه د نظم او ډسپلين په برخه کي ښه نوم لري تر اوسه داسي کومه پيښه نده ترسره سوي چي د نظم او ډسپلين د نورمونو خلاف وي. همدارنګه مالي او بانکي څانګي د څيړني په برخه کي رغنده رول لوبولی دی چي د ځينو استادانو له لوري په بيلابيلو نړيوالو ژورنالونو کي په بيلابيلو عناوينو باندي علمي او تحقيقاتي مقالې خپري سويدي.

مالي او بانکي څانګه تل کوښښ کوي چي د تضمين کيفيت او لوړاوي د معيارونو او نورمونو مطابق چاري سنبال کړي، چي له نيکمرغه ياد ډيپارټمنټ د تضمين کيفيت د ځان ارزوني په دوهم پړاو کي د ښو نمرو د ترلاسه کولو شاهد دی او دريم پړاو ځان ارزوني ته د اماده ګۍ په برخه کي له پوره دقت څخه کار اخلي.

د لوړو زده کړو د وزارت د پلان او پاليسی سره سم د بُست پوهنتون اقتصاد پوهنځي مالي او بانکي ډيپارټمنټ اساسي هدف د کيفيت لوړوالی او همدارنګه د ټولنی د اړتياوو ترمنځ د يو مناسب تعادل رامنځته کول دي، ترڅو و کولای سي ټولني ته په بيلابيلو برخو کي مسلکي او په کارپوه کادرونه وړاندي کړي او د هيواد په کچه اقتصادي ستونزو او کړکيچونو ته د حل لپاره مناسبه د حل لار ومومي.

اوس اړتيا ده چي پورته ذکر سويو ستونزو او نويو ملي او نړيوالو معيارونو ته د رسيدو اود بُست پوهنتون اقتصاد پوهنځي ليرليد پرخوا د حرکت کولو لپاره په سيستماتيک ډول د يو هر اړخيزي ستراتيژۍ پر مټ کار وسي، نوموړی ستراتيژيک پلان د لاندي شپږو ستراتيژيکو برخو لپاره ترتيب سوی. زيربنايي پراختيا، مالي او اداري پراختيا، علمي او څيړنيزه پراختيا، د ښه حکومتولۍ پراختيا، لوړو زده کړو ته د لاسرسي پراختيا، د ټولني په انکشاف کي د ونډې زياتوالی.

په ټوله کي په پلان کي کوښښ سوی چي د واقيعي ارقامو او شرايطو په اساس موجوده وضعيت په درست شکل تحليل سي او راتلونکي اهداف هم د حقيقي او واقيعبينانه اړتياوو او ممکنه ترلاسه کيدونکو موثرو پايلو پر بنسټ وټاکل سي، هيله ده دا پلان به تر نهايي حده د اقتصاد پوهنځي او مالي او بانکي ډيپارټمنټ پر راتلونکو فعاليتونو او انکشاف باندي زيات مثبت او درست تاثير ولري.

### لرليد (Vision):

د بُســت پوهنتون د مالي او بانکي څانګه مالي او بانکي څانګه به د پوهنتون او هيواد په کچه په مالي او بانکي علومو کي يو معياري، مسلکي او مخکښ ډيپارټمنټ وي.

**رسالت: (Mission):**

د مالي او بانکي څانګه مالي او بانکي ډيپارټمنټ به د هر اړخيزه امکاناتو په چمتو کولو سره مسلکي کادرونه روزي او کره پوهنيزي څيړني به رامنځته کوي، تر څو هلمند او هيواد ته غوره خدمت وکړو

**د مالي او بانکي ډيپارټمنټ ارزښتونه**

1. ټولنيز عدالت؛
2. عدم تبعيض؛
3. مسلکيتوب؛
4. د کيفيت لوړوالي ته ژمنتيا؛
5. د قانون، مقرراتو او اصولو رعايت؛
6. کار او اهدافو ته ژمنتيا ؛
7. ټولنيزو، ملي او اسلامي ارزښتونو ته درناوی؛
8. د جنډر برابري؛
9. سالم مديريت او سالمه همکاري؛
10. شفافيت او د اداري فساد مخنيوی؛
11. نوښت او پرمختګ؛
12. د قانون تر چتر لاندي، شخصي، مسلکي، فکري او د بيان آزادي؛

**IV. ستراتيژيکي موخي:**

1. تر راتلونکو دريو کلونو پوري د ډيپارټمنټ اداره په کافي بنه مجهزه او عصري کول
2. د ديرش سلنه ماسټر او شل سلنه دوکتورا لرونکو استادانو درلودل؛
3. د کيفيت د لوړاوي په برخه کي د ډيپارټمنټ اکاډميک اعتبار اخيستل؛
4. د علمي همکاريو په موخه له دريو ملي او يو نړيوال پوهنتون سره د ډيپارټمنټ وصل کول؛
5. د اوس په پرتله د يو نيم چند زياتو محصلينو جذبول؛
6. علمي څيړني او څيړنيز فعاليتونه د اوس په پرتله ديرش سلنه پراخول؛
7. د اړتيا مطابق تخنيکي او مسلکي کارمندان استخدامول او روزنه يې؛
8. د سيمنارونو، ورکشاپونو او ټرينينګونو په ذريعه د ډيپارټمنټ د استادانو، کارمندانو او محصلينو ظرفيتونه ۵۰ سلنه لوړول؛

9. د مالي او بانکي ډيپارټمنت ټولو محصلينو ته د عملي کارونو، علمي سيرونو او نورو اړينو فرصتونو چمتو کول؛

## V. د محيطي عواملو تحليل (SWOT Analysis)

### A. د مالي او بانکي ډيپارټمنټ قوي ټکي

د بُست پوهنتون د رهبرۍ، د اقتصاد پوهنځی سټاپ، د مالي او بانکي ډيپارټمنټ استادانو، فارغانو، محصلانو د نظرياتو د تحليل پر بنسټ په ډاګه سوې چي لاندي ټکي د مالي او بانکي ديپارټمنټ قوي ټکي ګڼل کيږي:

1. د قانون، مقرراتو او اصولو تطبيق په ډير ښه ډول سره تر سره سوی.
2. د اداري چارو انسجام، چټکتيا او معياري والی د اعتبار وړ دی.
3. ښه نظم او دسپلين په ځانګه کي برقراره دی.
4. محصلانو لپاره په لوړ معيار او د ټولني د اړتيا مطابق خدمات تر سره سوي.
5. د کيفيت تضمين او لوړاوي په برخه کي ټولي چاري په منظم ډول مخي ته وړل کيږي.
6. د ايراسموس پلس نړيوال تحصيلي سيستم کي مالي او بانکي ډيپارټمنټ ښه ونډه درلودلې او څلور دوري محصلين يې د هسپانيا هيواد د ديسانتياګو پوهنتون ته ليږلي دي.

### B. د مالي او بانکي ډيپارټمنټ کمزوري ټکي

د بُست پوهنتون د رهبرۍ، د اقتصاد پوهنځی سټاپ، د مالي او بانکي ډيپارټمنټ استادانو، فارغانو، محصلانو د نظرياتو د تحليل پر بنسټ په ډاګه سوې چي لاندي ټکي د مالي او بانکي ديپارټمنټ کمزوري ټکي ګڼل کيږي:

1. د کادري سيستم د چارو ټکني کيدل او سستوالی.
2. د علمي ظرفيت لوړوني په برخه کي د اړتيا مطابق کار ندی سوی.
3. د مالي او بانکي څانګي د استادانو له لوري ملي او نړيوالو ژورنالونو کي ډيري کمي علمي مقالې نشر سوي دي.
4. د محصلينو لپاره د عملي کارونو او علمي سيرونو په برخه کي کافي کار نه دی تر سره سوی.
5. استادانو ته د اوږدمهاله ظرفيت لوړوني زمينه سازي نده سوي.
6. کريکولم، زده کړه ايز تدريسي لکچر نوټونه، تدريسي کتابونه او مواد مو زاړه او پخواني دي او ډيري ستونزي لري.

### C. فرصتونه

1. په مارکيټ کي رقابت ته په کتو سره د مالي او بانکي ډيپارټمنټ لپاره د کافي محصلينو د جذب فرصت شتون لري.
2. مالي او بانکي ډيپارټمنټ کولای سي په عملي اقتصاد کي د رول په زياتوالي سره خپل عوايد د بيلابيلو پروګرامونو د په کار اچولو له لاري زيات کړي.
3. مالي او بانکي کولای د ښه کاري ټيم او کافي اندازه امکاناتو په درلودلو سره خپل راتلونکي پنځه کلن ستراتيژيک پروګرامونه په ډول سره مديريت کړي.

4. مالي او بانکي ډيپارټمنټ د کار په مارکيټ کي د مسلکي کاري قوي د جذب ښه فرصتونه لري.
5. مالي او بانکي ډيپارټمنټ د پوهنځی او پوهنتون د رهبری ښه حمايه لري او کولای سي له چيلنجونو سره تر ډيره حده مقابله وکړي.

**D. تهديدونه او ننګوني:**

1. د ټولني اقتصادي ضعف او د پوهنتون د مالي سرچينو او عوايدو کموالی به مالي او بانکي ډيپارټمنټ پراختيايي پروګرامونه له خنډ او ځنډ سره مخ کړي.
2. د دولسم ټولګيو د فارغانو د ظرفيت ټيټوالی د محصلينو د ظرفيت لوړوني او علمي اساسي موخو په ترلاسه کولو کي يو عمده ستونزه او خنډ دی.
3. شرايطو ته په کتو سره د علمي څيړنو او علمي ظرفيت سازی سره د استادانو، محصلينو او فارغانو کمه علاقه د ظرفيت لوړوني او علمي لاسته راونو په وړاندي يو عمده او اساسي خنډ دی.
4. په ټولو خصوصي لوړو زده کړو په بنسټونو کي د کادري سيستم نه موجوديت/فعالول د استادانو د کار پر ثبات او علمي لاسته راوړنو منفي اغيز لري.
5. د کار په مارکيټ کي د کاري فرصتونو کموالی د مالي او بانکي ډيپارټمنټ د فارغانو لپاره يو لوي ګواښ دی.

**E: د لوړو زده کړو وزارت د ملي ستراتيژيک پلان لومړيتوبونه:**

لاندي لومړيتوبونه د لوړو زده کړو وزارت په ستراتيژيک پلان کي په نښه سوي دي چي اقتصاد پوهنځی به يې په خپلو ستراتيژيکو برنامو کي پام کي ساتي.

**حکومتداري:** مديريت او رهبري، مالي، اداري او اکاډميک استقلال، له فساد او بيروکراسی سره مبارزه، د همکاريو زياتوالی، د کمکونو جذبول، د جندر مسائيل او د پوهنتون د بوديجي زياتوالی؛

**اکاډميک پروګرام:** د علمي کادرونو او کارمندانو د ظرفيت لوړول، د مطالعاتو او څيړنو د پرواګرامونو پراختيا، د ماسټری او دوکتورا پروګرامونه، د کريکولم پراختيا، د ظرفيتونو لوړوالی او د کيفيت د تصديق کسب، د بازار د اړتياوو مطابق د درسي موادو اماده کول، الکترونيکي زده کړي، ټکنالوژيکي پراختيا او اطلاعاتو ته لاسرسی؛

**لوړو زده کړو ته لاسرسی:** د لوړو زده کړو د ساحي پراختيا، په لوړو زده کړو د ښځو د ونډي زياتوالی، د کريډيټ سيستم د اجرا د سطح لوړوالی، د محصلانو د خدمتونو زياتوالی او بهتر والی؛

**ودانيز کارونه:** د تدريسي ودانيو رغول، د جمنازيو م، کتابخانو، ليليلو او اډيټوريم رغول، د مطالعې او څيړنو مرکزونه رغول او د معلوماتي ټکنالوژی د پراختيا مرکز رغول.

**F: د داخلي محيط د عواملو تحليل:**

| شماره | داخلي عوامل(د قوت او کمزوري ټکي) | وزني ضريب | امتيازي ضريب | موزون ضريب |
|---|---|---|---|---|
| 1 | د قانون، مقرراتو او اصولو تطبيق | 0.13 | 4.00 | 0.52 |
| 2 | د اداري چارو انسجام، چټکتيا او معياري والی | 0.15 | 3.80 | 0.57 |
| 3 | ښه نظم او دسپلين په څانګه کي برقراره دی | 0.07 | 3.50 | 0.25 |
| 4 | محصلانو لپاره په لوړ معيار خدمات تر سره سوي | 0.12 | 3.30 | 0.40 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 5 | د کیفیت تضمین چارې د معیار مطابق تنظیم سوی | 0.10 | 3.20 | 0.32 |
| 6 | د محصلینو د عملي کارونو او عملي سیرونو په برخه کې کافي کار نه دی سوی | 0.08 | 2.00 | 0.16 |
| 7 | د علمي ظرفیت لوړونې په برخه کې د اړتیا مطابق کار ندی سوی | 0.10 | 1.70 | 0.17 |
| 8 | کادري سیستم په منظم ډول ندی فعاله سوی | 0.06 | 1.30 | 0.08 |
| 9 | په ملي او نړیوالو ژورنالونو کې ډیرې کمې علمي مقالې نشر سوې دي | 0.09 | 1.10 | 0.10 |
| 10 | کریکولم او درسي مواد لا هم پوره معیاري نه دي او ستونزې لري | 0.10 | 1.00 | 0.10 |
| | **نتیجه** | 1.00 | | **2.67** |

**G: د باندني محیطي عواملو تحلیل**

| شماره | باندني محیطي عوامل(فرصتونه او تهدیدونه) | وزني ضریب | امتیازي ضریب | موزون ضریب |
|---|---|---|---|---|
| 1 | مالي او بانکي څانګې ته د محصلینو د تقاضا زیاتوالی | 0.12 | 4.00 | 0.48 |
| 2 | د پوهنځۍ او پوهنتون د رهبرۍ ښه حمایه | 0.15 | 3.70 | 0.56 |
| 3 | په عملي اقتصاد کې د رول په زیاتوالي سره د عوایدو زیاتوالی | 0.07 | 3.50 | 0.25 |
| 4 | د ښه کاري ټیم او امکاناتو په درلودلو سره د ستراتیژیکو پروګرامونو مدیریت. | 0.09 | 3.20 | 0.29 |
| 5 | د کار په مارکیټ کې د مسلکي کاري قوې د جذب فرصت | 0.11 | 3 | 0.33 |
| 6 | د ټولني اقتصادي ضعف او د پوهنځی او پوهنتون د مالي سرچینو کموالی | 0.08 | 2.00 | 0.16 |
| 7 | د مکاتبو څخه د فارغه کیدونکو شاګردانو د ظرفیتونو ټیټوالی | 0.06 | 1.70 | 0.10 |
| 8 | د علمي ظرفیت لوړونې سره د استادانو، فارغانو او محصلینو کمه علاقه | 0.12 | 1.50 | 0.18 |
| 9 | د کادري سیستم نه موجودیت/فعالول | 0.13 | 1.3. | 0.17 |
| 10 | د کار په مارکیټ کې د کاري فرصتونو کموالی | 0.07 | 1.00 | 0.07 |
| | **نتیجه** | 1.00 | | **2.59** |

**H: د محیطي (داخلي او باندني) عواملو مقایسه**

پدې برخه کې د مالي او بانکي څانګې داخلي عوامل(قوي ټکي او کمزوري ټکي) او باندني عوامل(فرصتونه او تهدیدونه) جمعه اوري، تحلیل او تجزیه سوي او کوښښ کیږي چې قوي ټکي او فرصتونه لا هم لوړ کړي او کمزوري ټکي او تهدیدونه تر اضغري نقطې پورې راښکته کړي او یا یې له منځه یوسي.

**الف: د داخلي عواملو د لومړیتوب ټاکلو ماتریکس**

| د | پړاو | د پوهنځۍ پر کړنو او فعالیتونو اغیز | | |
|---|---|---|---|---|
| | | زیات | منځنی | لږ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | زيات (۳ - ۴) | د قانون، مقرراتو او اصولو تطبيق | لوړ لومړيتوب | | |
| | | د اداري چارو انسجام، چټکتيا او معياري والی | لوړ لومړيتوب | | |
| | | ښه نظم او دسپلين په ځانګه کې برقراره دی | | منځنی لومړيتوب | |
| | | محصلانو لپاره په لوړ معيار خدمات تر سره سوي | | منځنی لومړيتوب | |
| | | د کيفيت تضمين چارې د معيار مطابق تنظيم سوی | لوړ لومړيتوب | | |
| | منځنی (۲ - ۳) | د محصلينو د عملي کارونو او عملي سيرونو په برخه کې کافي کار نه دی سوی | | منځنی لومړيتوب | |
| | لږ (۱ - ۲) | د علمي ظرفيت لوړوني په برخه کې د اړتيا مطابق کار ندی سوی | لوړ لومړيتوب | | |
| | | کادري سيستم په منظم ډول ندی فعاله سوی | لوړ لومړيتوب | | |
| | | په ملي او نړيوالو ژورنالونو کې ډيري کمي علمي مقالې نشر سوي دي | | | ټيټ لومړيتوب |
| | | کريکولم او درسي مواد لا هم پوره معياري نه دي او ستونزي لري | | منځنی لومړيتوب | |

**ب: د باندني عواملو د لومړيتوب ټاکلو ماتريکس**

| د واقع کيدو احتمال | حالت | | پر پوهنځي يې اغيز | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | زيات | منځنی | لږ |
| | زيات (۳ - ۴) | مالي او بانکي څانګي ته د محصلينو د تقاضا زياتوالی | لوړ لومړيتوب | | |
| | | د پوهنځي او پوهنتون د رهبری ښه حمايه | لوړ لوموېتوب | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | په عملي اقتصاد کي د رول په زياتوالي سره د عوايدو زياتوالی | | منځنۍ لومړيتوب | |
| | | د ښه کاري تيم او امکاناتو په درلودلو سره د ستراتيژيکو پروګرامونو مديريت. | لوړ لومړيتوب | | |
| | منځنۍ (۲-۳) | د کار په مارکيټ کي د مسلکي کاري قوي د جذب فرصت | | | ټيټ لومړيتوب |
| | | د ټولني اقتصادي ضعف او د پوهنځی او پوهنتون د مالي سرچينو کموالی | لوړ لومړيتوب | | |
| | لړ (۱-۲) | د مکاتبو څخه د فارغه کيدونکو شاګردانو د ظرفيتونو ټيټوالی | | منځنۍ لومړيتوب | |
| | | د علمي ظرفيت لوړوني سره د استادانو، فارغانو او محصلينو کمه علاقه | | منځنۍ لومړيتوب | |
| | | د کادري سيستم نه موجوديت/فعالول | | | ټيټ لومړيتوب |
| | | د کار په مارکيټ کي د کاري فرصتونو کموالی | | | ټيټ لومړيتوب |

**I: د سوات (SWOT) ماتريکس جدول:**

| داخلي عوامل / باندني عوامل | د قوت ټکي: S | کمزوري ټکي: W |
|---|---|---|
| | 1. د قانون، مقرراتو او اصولو تطبيق.<br>2. د اداري چارو انسجام، چټکتيا او معياري والی.<br>3. ښه نظم او دسپلين.<br>4. محصلانو لپاره په لوړ معيار خدمات تر سره سوي.<br>5. د کيفيت تضمين چاري د معيار مطابق تنظيم سوی. | 1. د محصلينو د عملي کارونو نشتون.<br>2. د علمي ظرفيت لوړوني په برخه کي د اړتيا مطابق کار ندی سوی.<br>3. کادري سيستم ندی فعاله سوی.<br>4. په ملي او نړيوالو ژورنالونو کي ډيري کمي علمي مقالې نشر سوي دي.<br>5. کريکولم او درسي مواد معياري ندي. |

| فرصتونه: O | تهاجمي ستراتیژیاني: (S O) | محافظه کارانه ستراتیژیاني: (W O) |
|---|---|---|
| 1. مالي او بانکي ځانګي ته د محصلینو د تقاضا زیاتوالی.<br>2. د پوهنځي او پوهنتون د رهبری ښه حمایه.<br>3. په عملي اقتصاد کي د رول په زیاتوالي سره د عوایدو زیاتوالی.<br>4. د ښه کاري ټیم او امکاناتو په درلودلو سره د ستراټیژیکو پروګرامونو مدیریت.<br>5. د کار په مارکیټ کي د مسلکي کاري قوي د جذب فرصت. | 1. د اداري چارو د معیاري والي او محصلینو ته د ښو خدماتو د وړاندي کولو پر اساس د محصلینو د جذب فرصت ترلاسه کولای سو.<br>2. د رهبري د ښه حمایې پر اساس د ستراټیژیکو پروګرامونو تطبیق ممکن کیږي.<br>3. د قانون، مقرراتو، اصولو د رعایت او ښه نظم او ډسپلین په درلودلو سره د کار په مارکیټ کي د مسلکي کاري قوي د جذب فرصت ترلاسه کولای سو.<br>4. د اداري چارو د انسجام او همږغۍ پر اساس د عملي اقتصاد څخه د عوایدو د ترلاسه کولو فرصت لاسته راوړلای سو. | 1. د پوهنځي او پوهنتون د رهبرۍ د حمایې او د کار د مارکیټ څخه د مسلکي کاري قوي د جذب پر اساس د علمي څیړنو برخه پیاوړي کیدای سي او په نړیوالو او ملي ژورنالونو کي د مقالو د نشر تعداد زیاتیدای سي.<br>2. د محصلینو د زیاتوالي او د عملي اقتصاد څخه د عوایدو د زیاتوالي له کبله کولای سو محصلینو ته د ښو عملي کارونو او علمي سیرونو زمینه سازي وکړو.<br>3. د کار په مارکیټ کي د مسلکي کاري قوي په جذب سره د تدریسي موادو د اصلاح ستونزه په اسانی سره حلیدلای سي. |
| تهدیدونه: T | رقابتي ستراتیژیاني: (S T) | تدافعي ستراتیژیاني (W T) |
| 1. د ټولني اقتصادي ضعف او د پوهنځي او پوهنتون د مالي سرچینو کموالی.<br>2. د مکاتبو څخه د فارغه کیدونکو شاګردانو د ظرفیتونو ټیټوالی.<br>3. د علمي ظرفیت لوړوني سره د استادانو، فارغانو او محصلینو کمه علاقه.<br>4. د کادري سیستم نه موجودیت/فعالول.<br>5. د کار په مارکیټ کي د کاري فرصتونو کموالی. | 1.د اداري چارو د انسجام او معیاري والي او محصلینو ته د ښو خدماتو د وړاندي کولو پر اساس ځانګي ته د نوي کامیاب سویو محصلینو ظرفیتونه په ښه ډول لوړولای سو.<br>2.د معیار مطابق د تضمین کیفیت د چارو د ترسره کولو پر اساس کولای سو چي د کادري سیستم چاري منظمي کړو.<br>3.د اداري چارو منسجم او معیاري والي پر اساس کولای سو د ټولني د اقتصادي ضعف او اداري د | 1. د اداري د موجوده کمو مالي سرچینو پر اساس د محصلینو د عملي کارونو د موجوده حالت ساتنه.<br>2. د علمي څیړنو په ترسره کولو کي د استادانو، محصلینو او فارغانو د کمي علاقي پر اساس د علمي څیړنو اړوند د سمینارونو او ورکشاپونو وړاندي کول اود موجوده امکاناتو له لاري په مادي او معنوي ډول د دوی تشویق.<br>3. د موجوده علمي ظرفیتونو پر اساس د موجوده |

| | | |
|---|---|---|
| | کمو امکاناتو څخه په موثر ډول استفاده وکړو.<br>4.محصلینو ته د ښو خدماتو په وړاندي کولو سره کولای سو د محصلینو ظرفیتونه په ښه ډول سره لوړ کړو تر څو محصلین د کار مارکیټ کي په اسانی سره د کار فرصتونه ترلاسه کړي. | زوړ او پخواني کریکولم او تدریسي موادو ساتنه. |

**I: د مالي او بانکي ډیپارټمنت د ستراتیژیک حالت ټاکنه:**

د پورته سوات ماتریکس جدول د تحلیل پر اساس د مالي او بانکي ډیپارټمنټ موجوده ستراتیژیک حالت د داخلي (قوت او ضعف ټکي) او بیروني (فرصتونو او تهدیدونه) عواملو په نظر کي نیولو سره په لاندي ډول تعین سویدی.

| داخلي عوامل / بیروني عوامل | | | د داخلي عواملو د ماتریکس د تحلیل نهایي نمره | |
|---|---|---|---|---|
| | | | **قوت ټکي** | **ضعف ټکي** |
| | | | 2.06 | 0.61 |
| د بیروني عواملو د ماتریکس د تحلیل نهایي نمره | **فرصتونه** | 1.91 | **3.93 تهاجمي حالت** | 1.17 محافظه کارانه حالت |
| | **تهدیدونه** | 0.68 | 1.40 رقابتي حالت | 0.41 تدافعي حالت |

پورته تحلیل ته په کتو سره ویلای سو چي مالي او بانکي څانګه في الحال په تهاجمي ستراتیژیک حالت کي قرار لري او حالاتو او شرایطو ته په کتو سره کیدای سي محافظه کارانه، رقابتي او تدافعي ستراتیژیک حالتونو کي ذکر سویو ستراتیژیانو ته هم لومړیتوب ورکول سي.

## VI. د مالي او بانکي ډیپارټمنت د راتلونکو پنځو کلونو ستراتیژیک پروګرامونه

### 1. زیربنایي پراختیا

مالي او بانکي ډیپارټمنټ د اقتصاد پوهنځی په چوکاټ کي د اوس لپاره هیڅ اداري شعبه نه لري او خپلي چاري د اداره او تجارت څانګي له شعبې څخه مخته وړي، خو اړتیا لیدل کیږي چي زیربنایي امکانات پراخ اود تقاضا مطابق موجود و اوسي نو په همدي اساس په دي برخه کي به په راتلونکو پنځو کلونو کي لاندي پرواګرامونه په لاره اچول کیږي.

### i. د اداري شعباتو پراختیا

مالي او بانکي ډیپارټمنټ د کار لپاره یوه اداري شعبه لري چې د زیات کار، محصلینو او استادانو د بیروبار پر اساس کفایت نه کوي، نو پر همدي اساس مالي او بانکي ډیپارټمنټ پلان لري چې تر راتلونکو پنځو کلونو پوري اداري شعبات له یوي څخه دوو ته زیاتي کړي چي په لاندي جدول کي د مالي او بانکي ډیپارټمنټ د اوس او راتلونکو پنځو کلونو د شعباتو پراختیا ښودل سویده.

| شماره | د زیربنا موجوده وضعیت | | د پنځو کلونو پراختیایي پلان | |
|---|---|---|---|---|
| | د شعبې نوم | تعداد | د شعبې نوم | تعداد |
| 1 | مالي او بانکي څانګه | 0 | مالي او بانکي څانګه | 1 |
| **مجموعه** | | **0** | | **1** |

لومړی جدول: د مالي او بانکي ډیپارټمنت د اداري شعباتو پراختیا

### ii. د تدریسي ټولګیو پراختیا

مالي او بانکي ډیپارټمنټ في الحال 6 تدریسي ټولګی لري چي په اتم، اوم، پنځم، دریم، دویم او لومړي سمسترونو کي په بیلابیل تعداد سره محصلین زده کړي کوي، اما د محصلینو د جذب د زیاتوالي پر اساس اړتیا ده چي نوموړي ټولګی د 6 څخه 8 ته زیاتي کړو، نو پر همدي اساس لاندي جدول موږ ته د مالي او بانکي څانګي د ټولګیو د پراختیا په هلکه ښودنه کوي.

| شماره | موجوده ټولګي | | د پنځو کلونو پراختیایي پلان | |
|---|---|---|---|---|
| | اړونده څانګه | د ټولګیو تعداد | اړونده څانګه | د ټولګیو تعداد |
| 1 | مالي او بانکي څانګه | 4 | مالي او بانکي څانګه | 8 |
| **مجموعه** | | **4** | | **8** |

دوهم جدول: د مالي او بانکي ډیپارټمنت د ټولګیو د زیاتوالي پلان

## 2. د مالي او اداري برخي پراختیا

### i. عواید موندونکي پراختیایي پروګرامونه

مالي او بانکي ډیپارټمنټ تل کوښښ کوي چي د خپلو اساسي او بنسټیزو ستراتیژیکو پروګرامونو د تمویل لپاره بیلابیلي عایداتي سرچیني ولټوي او له بلي خوا اراده لري چي د خپلو استادانو او محصلینو د ترلاسه کړیو تجربو پر اساس د ظرفیت لوړوني پروګرامونه په لار واچوي چي د همدي پروګرامونو په ترسره کولو سره به یاد ډیپارټمنټ له یوي خوا خپل رول په ټولنه کي د ونډي اخیستلو پر اساس اداکړی وي او له بلي خوا به یې د ځان لپاره د عوایدو بیلابیل مدرکونه ترلاسه کړي وي، د نوموړو پروګرامونو څخه په لاندي ډول یادونه کوو.

a) د مالي او بانکي څانګي قدرمند استادان او ګران محصلین به علمي او تحقیقاتي څیړني په بیلابیلو برخو کي ترسره کوي.

b) مالي او بانکي ډیپارټمنټ به د بیلابیلو اداراتو د غوښتني پر اساس د ظرفیت لوړوني بیلابیل پروګرامونه په لار اچوي.

c) مالي او بانکي ډیپارټمنټ به د ظرفیت لوړوني مسلکي کورسونه په لار اچوي اود بیلابیلو اداراتو لپاره به لنډ مهاله برنامې، پلانوه او طرحې چمتو کوي.

د پورته پروګرامونو څخه ترلاسه کېدونکي عواید به د اقتصاد پوهنځۍ د عوایدو په حساب کې جمع کیږي. چې په لاندې احصایوي چارټ کې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د دې ډول پرواګرامونو پلان سوی تخمین شوډل کیږي.




| | لومړی کال | دوهم کال | دریم کال | څلورم کال | پنځم کال | ټولټال |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ظرفیت لوړوني پرواګرامونه | 1 | 2 | 2 | 2 | 3 | 10 |
| برنامې، پلان او طرحې | 2 | 2 | 2 | 2 | 3 | 11 |
| مسلکي کورسونه او ترینینګونه | 2 | 2 | 2 | 3 | 3 | 12 |
| د اړتیا ور څېړنې | 1 | 1 | 1 | 2 | 2 | 7 |

لومړی چارټ: د مالي او بانکي ډیپارټمنټ د عواید موندونکو پرواګرامونو تخمیني پلان

### ii. د تشکیلاتو پراختیا

مالي او بانکي ډیپارټمنټ د اوس لپاره په کافي اندازه بشري نیرو او اداري تشکیلات لري، اما د راتلونکو موخو د تحقق لپاره اړینه ده چې په اداري تشکیلاتو کې پراختیا راولو اود دایمي او کادري ستاپ شمیر د قراردادي په نسبت باندې زیات کړو، په لاندې جدول کې د اداري تشکیل پراختیا ښودل سویده.

| شماره | موجوده تشکیلات | د پنځو کلونو پراختیایي تشکیلاتي پلان |
|---|---|---|

| | اړونده شعبه | دايمي | قراردادي | اړونده شعبه | دايمي | قراردادي |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | مالي او بانکي څانګه | 2 | 4 | مالي او بانکي څانګه | 5 | 2 |
| | **مجموعه** | **2** | **4** | | **5** | **2** |

دريم جدول: د مالي او بانکي ډيپارټمنټ د پراختيايي تشکيلاتو جوړښت

## 4. لوړو زده کړو ته د لاسرسي پراختيا

### i. د جذب د کميت زياتوالی

مالي او بانکي ډيپارتمنت تل کوښښ کوي چي د خپلو خدماتو ساحه پراخه کړي تر څو د ټولني هر وګړی لوړو زده کړو لپاره لاسرسی ولري، د تحصيلي فيسونو کمښت او تحصيلي تخفيفونه په اعلانولو سره مالي او بانکي ډيپارتمنت کولای سي په ياده برخه کي د لوړو زده کړو زمينه سازي خپلو علاقمندانو ته وکړي، چي ددي فعاليتونو اساسي او بنسټيز هدف لوړو زده کړو ته د زده کړيالانو لاسرسی او د مالي او بانکي ډيپارتمنت مالي خودکفايي ده. چي په لاندي جدول کي د راتلونکو پنځو کلونو د محصلانو د جذب تعداد ښودل سويدی.

| شماره | د موجوده محصلانو تعداد | | | د پنځو کلونو د محصلانو د جذب پلان | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | اړونده څانګه | نارينه محصلين | ښځينه محصلين | اړونده څانګه | لومړی کال | دوهم کال | دريم کال | څلورم کال | پينځم کال | ټول |
| 1 | مالي او بانکي | 40 | 0 | مالي او بانکي | 40 | 40 | 50 | 50 | 60 | 240 |
| | **مجموعه** | **40** | **0** | | **40** | **40** | **50** | **50** | **60** | **240** |

څلورم جدول: د مالي او بانکي ډيپارټمنټ د جذب پلان

### ii. د محصلانو او فارغانو د مهارتونو د ودي پروګرام

مالي او بانکي ډيپارتمنت تل هڅه او کوښښ کوي چي د خپلو برحاله محصلينو او فارغانو د ظرفيتونو د لوړولو لپاره بيلابيل د ظرفيت لوړوني پروګرامونه په نظر کي ونيسي، تر زموږ محصلين او فارغان پدي وتوانيږي چي د ټولني د تقاضا / کار مارکيټ د اړتيا وړ مهارتونه ترلاسه کړي اود کار په ساحه کي ښه وځليږي، په لاندي جدول کي د هغو پروګرامونو په اړه د معلوماتو ښودنه کوي چي د مالي او بانکي ډيپارتمنټ له لوري د خپلو محصلينو او فارغانو د ظرفيت لوړوني لپاره يې په کار اچوي.

| شماره | ګټه اخيستونکي | د پروګرامونو تعداد په کال کي | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | زده کړه ايز سيمنارونه | مسلکي ټرينينګونه | علمي سيرونه | انټرنشيپ | علمي کنفرانسونه | د مهارتونو د ودي ورکشاپونه | د يو کال پروګرامونو مجموعه |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | محصلان | 1 | 0 | 1 | 0 | 1 | 1 | 4 |
| 2 | فارغان | 0 | 1 | 0 | 1 | 1 | 1 | 4 |
| | **مجموعه** | 1 | 1 | 1 | 1 | 2 | 2 | 8 |

پنځم جدول: د مالي او بانکي ډیپارټمنټ د محصلانو او فارغانو د مهارتونو د ودې پروګرامونه

### 5. د ښه حکومتولۍ پراختیا

#### i. د کمیټو ایجاد

ددې لپاره چې اړینې او ضروري چارې په درست او شفاف ډول پرته له کومې نیمګړتیا څخه تر سره سي او وړاندې کیدونکو خدماتو په کیفیت کې لا ښه والی راسي نو پر همدې اساس مالي او بانکي ډیپارټمنټ کوښښ کوي چې د اړتیا مطابق ځنې مهمې کمیټې فعاله کړي، په لاندې جدول کې د کمیټو د ایجاد په اړه لازم معلوماتو ښودنه کوي.

| شماره | د کمیټو موجوده وضعیت | | د کمیټو ایجاد |
|---|---|---|---|
| 1 | فعاله کمیټې | فعل حال د څانګې په سطحه فعاله کمیټې نلرو. | نوې کمیټې:<br>1. ازموینو کمیټه<br>2. نصاب او کریکولم کمیټه<br>3. نظم او دسپلین کمیټه<br>4. علمي څیړنو کمیټه |
| 2 | څانګړې دفترونه | نه لري | لږ تر لږه دوه شعبه ورته په نظر کې نیول کیږي. |
| 3 | میز، چوکۍ او اړین وسایل | نه لري | د اړتیا مطابق په کافي ډول چمتو کیږي |

شپږم جدول: د مالي او بانکي ډیپارټمنټ د کمیټو د ایجاد پلان

#### ii. د اداري کارمندانو د ظرفیتونو لوړوالی

مالي او بانکي ډیپارټمنټ تل کوښښ کوي چې د خپلو کارمندانو ظرفیتونه لوړ کړي، تر څو وکولای سي ور سپارل سوي دندې په ښه ډول سره ترسره کړي او په بیلابیلو برخو کې یې د اجراتو توانایي لوړه سي. په لاندې جدول کې د اداري کارمندانو د ظرفیت لوړوني د پروګرامونو په اړه معلومات ښودل سویدي.

| شماره | لنډ مهاله پروګرامونه په کلني ډول | | منځ مهاله پروګرامونه | |
|---|---|---|---|---|
| | د پروګرام ډول | د دایریدو تعداد | د پروګرام ډول | د دایریدو تعداد |
| 1 | مسلکي سیمنارونه | 1 | د انګلیسي زده کړې پروګرام | یو ځل |
| 2 | ورکشاپونه | 1 | د مهارتونو د ودې پروګرام | یو ځل |
| 3 | ټرینینګونه | 1 | د کمپیوټر اړین پروګرامونه | یو ځل |
| 4 | | | د مدیریت زده کړې پروګرام | یو ځل |

اووم جدول: د مالي او بانکي ډیپارټمنټ د اداري کارمندانو د ظرفیت لوړوني پروګرامونه

## 6. علمي او څېړنيزه پراختيا

### i. د تضمين کيفيت په برخه کې د ځانګې اعتبار اخيستنه

اکاډميک اعتبار اخيستنه د ټولو علمي او تحصيلي بنسټونو لپاره يو آړين او لازمي شرط دی، نو پر همدي اساس مالي او بانکي ډيپارټمنټ هم اراده لري تر څو د بُست پوهنتون د دريم پړاو ارزوني څخه وروسته د پوهنځی په سطحه د ځانګي د اعتبار ورکړې پروسه په برياليتوب سره ترسره کړي اود تضمين کيفيت په برخه کې دا اعتبارونه ترلاسه کړي. چې پدې برخه کې لاندي لازم فعاليتونه پروسس کيږي.

1. د ۱۴۰۱ کال تر پايه به بُست پوهنتون د اعتبار ورکړې پروسې دريم پړاو کې بريالی راووځي او ملي اکاډميک سرټيفيکيټ به تر لاسه کړي.
2. د ۱۴۰۳ کال تر پايه به د مالي او بانکي ډيپارټمنت د اقتصاد پوهنځی په سطحه د اعتبار ورکړې پروسه په برياليتوب تکميل کړي.

### ii. د علمي څېړنو د پراختيا پروګرام

د مالي او بانکي ډيپارټمنت استادان د څيړني د پروسيجر سره بلد او په دې برخه کې يې خپلې هڅې ندي سپمولي او لا هم د څېړنو په برخه کې د کار کولو هوډ لري، چې تر دې مهاله پورې د ياد ډيپارټمنټ استادانو له لورې څلور علمي مقالي په بيلابيلو نړيوالو ژورنالونو کې خپرې سويدي، همدارنګه د مالي او بانکي ډيپارټمنټ د ټولو فارغ کيدونکو محصلينو پايليکونه(مونوګرافونه) د پوهنځی د علمي څېړنو کميټې په همږغی تر دې مهاله پورې د علمي څېړنو د ميتود او پروسيجر مطابق تر سره سويدي او لا هم کوښښ کيږي چې په راتلونکي کې د څېړنو کيفيت لوړ کړو او په بيلابيلو اقتصادي موضوعاتو باندې د معيار مطابق څېړني ترسره کړو، چې په لاندي چارټ کې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د څېړنو اړوند معلومات ځای په ځای سويدي.




| | لومړی کال | دوهم کال | دریم کال | څلورم کال | پنځم کال | ټولټال |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د محصلانو علمي مقالې | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 25 |
| د استادانو ملي علمي مقالې | 2 | 2 | 3 | 3 | 4 | 14 |
| د استادانو د نړیوال ژورنال علمي مقالې | 2 | 2 | 3 | 3 | 4 | 14 |
| تالیف/ژباړه | 0 | 1 | 1 | 2 | 2 | 6 |

دوهم چارت: د مالي او بانکي ډیپارټمنټ د علمي څېړنو د پراختیا پلان

### iii. د علمي ظرفیتونو لوړولو پروګرام

مالي او بانکي ډیپارټمنټ د خپلو استادانو د ظرفیت لوړونې په برخه کې تول ممکنه لارې چارې په کار اچولې دي او لا هم کوښښ کوي چې د خپلو استادانو د ظرفیت لوړونې لپاره لنډمهاله او اوږدمهاله پروګرامونه په لار واچوي، نو پر همدې اساس مسلکي ترینګونه، ورکشاپونه، سمینارونه او بیلابیلو کورسونه د لنډمهالي برنامې په چوکاټ کې او د ماسترۍ پروګرامونه د اوږد مهالي برنامې په چوکاټ کې په لاره اچول کیږي، چې په لاندې جدول کې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د ظرفیت لوړونې پروګرامونه ښودل سویدي.

**الف: د ظرفيت لوړوني لنډ مهاله برنامې په دوامداره ډول**

| شماره | اړونده څانګه | د ظرفيت لوړوني برنامې په کلني ډول | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | مسلکي سيمنارونه | ټريننګونه | ورکشاپونه | مسلکي کورسونه |
| 1 | مالي او بانکي | 2 | 1 | 2 | 1 |
| **د کلنيو برنامو مجموعه** | | **2** | **1** | **2** | **1** |

اتم جدول: د مالي او بانکي ډيپارټمنټ د ظرفيت لوړوني لنډمهاله پروګرامونه

**ب: د مالي او بانکي ډيپارټمنټ د استادانو لپاره د ظرفيت لوړوني اوږدمهاله پروګرامونه**

په دې برخه کي د استادانو لپاره د ماسټرۍ سکالرشيپونه (آزاد، د لوړو زده کړو وزارت له طريقه او د هوکړه ليک پر اساس) او د پوهنځۍ په لګښت سره د ماسټرۍ پروګرامونه لټول کيږي.

| شماره | اړونده څانګه | د ماسټرانو اوسنی شمير | د پنځو کلونو په موده کي ماسټري ته ليږل کيدونکي |
|---|---|---|---|
| 1 | مالي او بانکي | 1 | 3 |
| **مجموعه** | | **1** | **3** |

نهم جدول: د مالي او بانکي ډيپارتمنت د ظرفيت لوړوني اوږدمهاله پروګرامونه

**7. د ټولني سره د مرستي پراختيا**

**i. په سيمه ايز اقتصاد کي د رول د پراختيا پروګرام**

د پوهنتون استادان، محصلين، فارغان او په ګُل کي ټول اکاډميک قشرونه د همدي ټولني غړي دي تر بل هر چا نوموړي طبقه وکړي د ټولني په اصلاح او پرمختګ کي ډير رول درلودلای سي، نو پر همدي اساس مالي او بانکي ډيپارتمنټ هوډ او اراده لري د خپل مسلک اړوند د هيواد په بيلابيلو اقتصادي مسايلو کي ونډه واخلي، چي پدي سره به له يوي خوا مالي او بانکي ډيپارټمنټ د ټولني د بيلابيلو قشرونو سره مرسته کړي او له بلي خوا به يې د هيواد په رغولو کي خپل مسئوليت په صحي شکل سره ادا کړی وي. په لاندي جدول کي د راتلونکو پنځو کلونو په جريان کي د فعاليتونو ښودنه سويده.

| شماره | برنامه | په پنځو کلونو کي د تطبيق شمير | ګټه اخيستونکي |
|---|---|---|---|
| 1 | د کورنيو توليداتو د ملاتړ ننداړتون | 1 | توليدوونکي، کاروباريان، اخيستونکي او عوام |
| 2 | مشورتي کنفرانسونه | 2 | پانګه اچوونکي، کاروباريان او توليدوونکي |
| 3 | مسلکي سيمنارونه/ورکشاپونه | 7 | د اجنډا مطابق |
| 4 | مسلکي مشوري | د اړتيا مطابق | اړونده مراجعه کوونکي |

لسم جدول: د مالي او بانکي ډيپارتمنټ د رول پراختيا په سيمه ايز اقتصاد کي

### ii. د سکالرشيپونو او تخفيفونو پروګرام

د ټولنې اقتصادي ضعف ته په کتو او تکړه او مستعدو ځوانانو ته د تحصيل زمينې مساعدولو کې سهم اخيستنه مالي او بانکي ډيپارټمنټ خپل دنده او مسؤليت ګڼي. په همدې موخه د سکالرشيپونو او تخفيفونو پروګرام د هغو ځوانانو لپاره دی چې د فيس ورکړې توانايي يې کمه وي او يا هم په کار، مسلک او زده کړو کې اغيزمنې لاسته راوړنې ولري. په لاندې جدول کې د دې پروګرام د پلان په اړه وضاحت ورکړل سوی دی:

| شماره | پروګرام | کلنی شمير | د پنځو کلونو مجموعه | ګټه اخيستونکي |
|---|---|---|---|---|
| 1 | مکمل وړيا سکالرشيب | 1 | 5 | هغه تکړه ځوانان چې اقتصادي ضعف ولري |
| 2 | نيمه وړيا سکالرشيپ | 1 | 5 | هغه ځوانان چې د ښوونځي د فراغت لوړي نمرې ولري او د تعليم په جريان کې ښې لاسته راوړنې ولري |
| 3 | تشويقي کمښتونه | 2 | 10 | برحاله تکړه او د ښه کرکټر لرونکو محصلينو لپاره |
| | مجموعه | 4 | 20 | |

يوولسم جدول: د اداره او تجارت ديپارټمنت د پنځوکلونو د سکالرشيپونو او تخفيفونو پروګرام

## VII. د ستراتیژیو د لومړیتوب ټاکنه:

په دې برخه کې د ستراتیژیکو برنامو د اجراء او تطبیق لپاره د غوره ستراتیژیو ټاکنه تحلیل سوی، چې په لاندې چارټ کې ښودل سوی دي.

| داخلي او بیروني عوامل / ستراتیژیانې | | اهمیت ضریب | تهاجمي ستراتیژي | | رقابتی ستراتیژي | | محافظه کارانه ستراتیژي | | تدافعي ستراتیژي | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | جذابیت ضریب | نمره | جذابیت ضریب | نمره | جذابیت ضریب | نمره | جذابیت ضریب | نمره |
| قوت ټکي | د قانون، مقرراتو او اصولو تطبیق | 0.13 | 4.00 | 0.52 | 4.00 | 0.52 | 4.00 | 0.52 | 4.00 | 0.52 |
| | د اداري چارو انسجام، چټکتیا او معیاري والی | 0.15 | 3.80 | 0.57 | 4.00 | 0.60 | 3.70 | 0.56 | 3.90 | 0.59 |
| | ښه نظم او دسپلین په ځانګه کې برقراره دی | 0.07 | 3.50 | 0.25 | 3.30 | 0.23 | 3.20 | 0.22 | 3.10 | 0.22 |
| | محصلانو لپاره په لوړ معیار خدمات تر سره سوي | 0.12 | 3.30 | 0.40 | 3.30 | 0.40 | 3.10 | 0.37 | 3.00 | 0.36 |
| | د کیفیت تضمین چاري د معیار مطابق تنظیم سوی | 0.10 | 3.20 | 0.32 | 3.00 | 0.30 | 3.00 | 0.30 | 3.00 | 0.30 |
| ضعف ټکي | د محصلینو د عملي کارونو او عملي سیرونو په برخه کې کافي کار نه دی سوی | 0.08 | 2.00 | 0.16 | 2.00 | 0.16 | 2.00 | 0.16 | 2.00 | 0.16 |
| | د علمي ظرفیت لوړوني په برخه کې د اړتیا مطابق کار ندی سوی | 0.10 | 1.70 | 0.17 | 1.80 | 0.18 | 1.90 | 0.19 | 1.80 | 0.18 |
| | کادري سیستم په منظم ډول ندی فعاله سوی | 0.06 | 1.30 | 0.08 | 1.20 | 0.07 | 1.30 | 0.08 | 1.20 | 0.07 |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 0.10 | 1.10 | 0.10 | 1.10 | 0.10 | 1.10 | 0.10 | 1.10 | 0.09 | په ملي او نړیوالو ژورنالونو کې ډېرې کمې علمي مقالې نشر سوي دي | |
| 0.10 | 1.00 | 0.10 | 1.00 | 0.10 | 1.00 | 0.10 | 1.00 | 0.10 | کریکولم او درسي مواد لا هم پوره معیاري نه دي او ستونزې لري | |
| 0.48 | 4.00 | 0.48 | 4.00 | 0.48 | 4.00 | 0.48 | 4.00 | 0.12 | مالي او بانکي څانګې ته د محصلینو د تقاضا زیاتوالی | فرصتونه |
| 0.54 | 3.60 | 0.56 | 3.70 | 0.57 | 3.80 | 0.56 | 3.70 | 0.15 | د پوهنځی او پوهنتون د رهبری ښه حمایه | |
| 0.24 | 3.40 | 0.25 | 3.50 | 0.25 | 3.60 | 0.25 | 3.50 | 0.07 | په عملي اقتصاد کې د رول په زیاتوالي سره د عوایدو زیاتوالی | |
| 0.29 | 3.20 | 0.29 | 3.20 | 0.28 | 3.10 | 0.29 | 3.20 | 0.09 | د ښه کاري ټیم او امکاناتو په درلودلو سره د ستراتیژیکو پروګرامونو مدیریت. | |
| 0.33 | 3.00 | 0.33 | 3.00 | 0.33 | 3.00 | 0.33 | 3.00 | 0.11 | د کار په مارکیټ کې د مسلکي کاري قوې د جذب فرصت | |
| 0.16 | 2.00 | 0.16 | 2.00 | 0.16 | 2.00 | 0.16 | 2.00 | 0.08 | د ټولنې اقتصادي ضعف او د پوهنځی او پوهنتون د مالي سرچینو کموالی | ګواښونه |
| 0.10 | 1.60 | 0.09 | 1.50 | 0.10 | 1.60 | 0.10 | 1.70 | 0.06 | د مکاتبو څخه د فارغه کیدونکو شاګردانو د ظرفیتونو ټیټوالی | |
| 0.17 | 1.40 | 0.17 | 1.40 | 0.18 | 1.50 | 0.18 | 1.50 | 0.12 | د علمي ظرفیت لوړوني سره د استادانو، فارغانو او محصلینو کمه علاقه | |
| 0.16 | 1.20 | 0.16 | 1.20 | 0.16 | 1.20 | 0.17 | 1.30 | 0.13 | د کادري سیستم نه موجودیت/فعالول | |
| 0.07 | 1.00 | 0.07 | 1.00 | 0.07 | 1.00 | 0.07 | 1.00 | 0.07 | د کار په مارکیټ کې د کاري فرصتونو کموالی | |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 5.14 | | 5.16 | | 5.24 | | 5.26 | | 2.00 | مجموعه |

**VIII. د ستراتیژیکو لومړیتوبونو ټاکنه:**

| شماره | ستراتيژيک لومړيتوب | ستراتيژيک پروګرام | برنامه |
|---|---|---|---|
| 1 | د علمي ظرفيتونو پراختيا | د مالي او بانکي څانګي اعتبار اخيستنه | د مالي او بانکي څانګي او کيفيت تضمين او لوړاوي کميټې پراختيايي/تطبيقي پلان |
| 2 | | د علمي څيړنو پراختيا | د مالي او بانکي څانګي او علمي څيړنو انکشافي پلان |
| 3 | | د علمي ظرفيتونو لوړولو پروګرام | د مالي او بانکي څانګي انکشافي پلانونه |
| 4 | مالي او اداري پراختيا | عوايد موندونکي پراختيايي پروګرامونه | مالي پلان |
| 5 | | د تشکيلاتو پراختيا | د مالي او بانکي څانګي کلني تطبيقي پلان |
| 6 | ښه حکومتولۍ پراختيا | د کميټو ايجاد | د څانګي کلني تطبيقي پلان |
| 7 | | د اداري کارمندانو د ظرفيتونو لوړوالی | د پوهنځی پراختيايي پلان |
| 8 | لوړو زده کړو ته لاسرسی | د جذب کميت زياتوالی | د مالي او بانکي څانګي پراختيايي پلان |
| 9 | | د محصلانو او فارغانو د مهارتونو د ودې پروګرام | د مالي او بانکي څانګي پراختيايي پلان |
| 10 | د ټولني سره د مرستي پراختيا | په سيمه ايز اقتصاد کي د رول زياتوالی | د مالي او بانکي څانګي پراختيايي پلان |
| 11 | | د سکالر شيپونو او تخفيفونو پروګرام | د مالي او بانکي څانګي پراختيايي پلان |
| 12 | زېربنايي پراختيا | د اداري شعباتو پراختيا | د مالي او بانکي څانګي کلني تطبيقي پلان/پراختيايي پلان |
| 13 | | د تدريسي ټولګيو پراختيا | د مالي او بانکي څانګي کلني تطبيقي پلان/پراختيايي پلان |

## IX. عملياتي/اکشن پلان

| شماره | فعاليت | هدف | مسؤل | د اجرا ځای | سرچينې | د کار د اجرا وخت | | | | | | | | | | | | ټوله وخت | د کار شروع | د کار ختم | اغيزي | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | ميزان | عقرب | قوس | جدی | دلو | حوت | | | | د برنامې اغيز | کتني |
| 1 | د مالي او بانکي ځانګي اعتبار اخيستني ته اماده ګي | د مالي او بانکي ډيپارټمنټ د اعتبار سرټيفيکېټ تر لاسه کول | کيفيت تضمين کميټه/مالي او بانکي ډيپارټمنټ | مالي او بانکي ډيپارټمنټ | تدريسي. مالي او اداري امکانات | | | | | | | | | | | | | خلور مياشتې | قوس ۱۴۰۱ | حوت ۱۴۰۱ | د کارونو د اجرا موثريت زياتيدل | |
| 2 | د ځانګي اعتبار اخيستنه | د مالي او بانکي ډيپارټمنټ د علمي او اداري چارو پراختيا | مالي او بانکي ډيپارټمنټ | مالي او بانکي ډيپارټمنټ | بشري سرچينې او مستندات | | | | | | | | | | | | | اوه مياشتې | حمل ۱۴۰۲ | قوس ۱۴۰۲ | دځانګي پر پراختيا او کيفيت به ښه اغيز ولري | |
| 3 | د علمي څېړنو پراختيا ته اماده ګي نيول | د علمي څېړنو زياتول | د علمي څېړنو کميټه/مالي او بانکي ډيپارټمنټ | مالي او بانکي ډيپارټمنټ | د اړتيا مطابق | | | | | | | | | | | | | خلور مياشتې | قوس ۱۴۰۱ | حوت ۱۴۰۵ | محصلينو، استادانو او ټولني وګړو ته د سهولتونو ايجاد | |
| 4 | د علمي ظرفيتونو لوړولو لنډمهاله پروګرامونه | د علمي ظرفيتونو لوړول | مالي او بانکي او د علمي څېړنو کميته | مالي او بانکي ډيپارټمنټ | ځای تخنيکي وسايل قرطاسه او ترينر | | | | | | | | | | | | | دوامداره | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | د کارکوونکو د اجراتو توانايي زياتيدل | |
| 5 | استادان د ماسترۍ پروګرامونو ته ليږل | د علمي ظرفيتونو وده | د پوهنځی رياست/مالي او بانکي ډيپارټمنټ | مالي او بانکي ډيپارټمنټ | مالي سرچينې | | | | | | | | | | | | | خلور مياشتې | ۱۴۰۴ | ۱۴۰۵ | د استادانو د ظرفيتونو لوړوالی اود اداري پر فعاليتونو مثبت اغيز | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 6 | عواید موندونکي پراختیایي پروګرامونو ته اماده کې | د مالي سرچینو ممکن کول | ډیپارټمنټ/ پوهنځی ریاست | مالي او بانکي ډیپارټمنټ | ځای، قرطایه، ټکنالوژي بشري سرچیني | | | | | | | | | | | | | دري میاشتي | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | د لازمو تدریسي او اداري امکاناتو مهیا کول | |
| 7 | د تشکیلاتو پراختیا | د بشري سرچینو د اغیزمنتیا څخه ډاډ تر لاسه کول | ډیپارټمنټ/ پوهنځی ریاست | مالي او بانکي ډیپارټمنټ | مالي سرچینې | | | | | | | | | | | | | دوامداره | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | د اړتیا او معیار مطابق د بشري سرچینو درلودل | |
| 8 | د کمیټو ایجاد | د ځانګي په کچه د اړوندو چارو د کیفیت لوړول | ډیپارټمنټ/پوهنځی ریاست | مالي او بانکي ډیپارټمنټ | بشري او فزيکي سرچینې | | | | | | | | | | | | | څلور میاشتي | سنبله ۱۴۰۳ | قوس ۱۴۰۳ | د نوښتونو ایجاد او د مهارتونو د کچې وده | |
| 9 | د اداري کارمندانو د ظرفیتونو لوړوالی | د کارمندانو په اداري او کاري ظرفیت کي لوړوالی راوستل | ډیپارټمنټ/ پوهنځی ریاست | مالي او بانکي ډیپارټمنټ | بشري او فزيکي سرچینې | | | | | | | | | | | | | دري خلي هر کال | جدي ۱۴۰۲ | حوت ۱۴۰۵ | د فعالیتونو موثره تر سره کول او مثمریت رامنځته کول | |
| 10 | د جذب کمیت زیاتوالی | د لوړو زده کړو د ساحې پوښښ زیاتوالی او د عوایدو لوړوالی | ډیپارټمنټ | مالي او بانکي ډیپارټمنټ | د اړتیا مطابق | | | | | | | | | | | | | دوامداره | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو ته لاسرسی اود مالي سرچینو ممکن کول | |
| 11 | د محصلانو او فارغانو د مهارتونو د ودې پروګرام | د کار د مارکیټ مطابق د علمي کادرونو روزل | ډیپارټمنټ | مالي او بانکي ډیپارټمنټ | ترینران، فزيکي سرچیني، ځای | | | | | | | | | | | | | یو خلې هر کال | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | د اړتیا مطابق د محصلانو او فارغانو روزل | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 12 | په سيمه ايز اقتصاد کي د رول زياتوالی | په عملي اقتصاد کي د ونډي زياتوالی | ډيپارتمنټ / پوهنځی رياست | مالي او بانکي ډيپارتمنټ | د اړتيا مطابق | | | | | | | | | | | | | دوامداره | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | د عملي کارونو او کار د ساحي سره د محصلينو اشنا کول | |
| 13 | د سکالر شيپونو او تخفيفونو پروګرام | له مطالعې سره د محصلينو د اړيکو زياتوالی او د نوي مالوماتو کسب | ډيپارتمنت/ پوهنځی رياست | مالي او بانکي ډيپارتمنټ | د اړتيا مطابق | | | | | | | | | | | | | څلور هر کال | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | د تحصيل د زمينې مساعدوالی | |
| 14 | د اداري شعباتو پراختيا | د کاري محيط منظموالی | ډيپارتمنت/پوهنځی رياست | مالي او بانکي ډيپارتمنټ | مالي او فزيکي سرچيني | | | | | | | | | | | | | دري مياشتي | جدي ۱۴۰۴ | حوت ۱۴۰۴ | د کار په ساحه کي د سهولت ايجاد | |
| 15 | د تدريسي ټولګيو پراختيا | د معيار مطابق د تدريسي ټولګيو مهيا کول او په ښه ډول د خدماتو وړاندي کول | ډيپارتمنټ/پوهنځی رياست | مالي او بانکي ډيپارتمنټ | مالي او فزيکي سرچيني | | | | | | | | | | | | | دري مياشتي | حمل ۱۴۰۴ | جوزا ۱۴۰۴ | د ښو خدماتو ارايه کول | |

## X. د بودیجې تدوین

د بودجې د تدوین په برخه کې د ټولو پرواګرامونو د تمویل لګښتونه او عواید تنظیم او شودل سویدي.

| شماره | پروګرام | لګښتونه | | | | | | عواید | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | 1401 | 1402 | 1403 | 1404 | 1405 | ټوټال | 1401 | 1402 | 1403 | 1404 | 1405 | ټوټال |
| 1 | د څانګې اعتبار اخیستنه | 10,000 | 10,000 | 0 | 0 | 0 | 20,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 2 | د علمي څېړنو پراختیا | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 50,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 3 | عواید موندونکي پراختیایي پروګرامونه | 5,000 | 5,000 | 5,000 | 5,000 | 5,000 | 25,000 | 40,000 | 50,000 | 60,000 | 60,000 | 100,000 | 310,000 |
| 4 | د تشکیلاتو پراختیا | 50,000 | 80,000 | 100,000 | 120,000 | 150,000 | 500,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| ۵ | د علمي ظرفیتونو لوړولو لنېمهاله پروګرامونه | 33,000 | 33,000 | 66,000 | 66,000 | 66,000 | 264,000 | | | | | | |
| | ماسټري پروګرام ته د استادانو لیږل | 0 | 0 | 0 | 160,000 | 100,000 | 260,000 | | | | | | |
| 5 | د کمیټو ایجاد | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 50,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 6 | د اداري کارمندانو د ظرفیتونو لوړوالی | 5,000 | 5,000 | 5,000 | 5,000 | 5,000 | 25,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 7 | د جذب کمیت زیاتوالی | 5,000 | 6,000 | 7,000 | 7,000 | 8,000 | 33,000 | 480,000 | 760,000 | 960,000 | 1,130,000 | 1,200,000 | 4,530,000 |
| 8 | د محصلانو او فارغانو د مهارتونو د ودې پروګرام | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 50,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 9 | په سیمه ایز اقتصاد کې د رول زیاتوالی | 15,000 | 15,000 | 15,000 | 15,000 | 15,000 | 75,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 10 | د سکالرشیپونو او تخفیفونو پروګرام | 16,000 | 16,000 | 16,000 | 16,000 | 16,000 | 80,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 11 | د اداري شعباتو پراختیا | 0 | 100,000 | 0 | 0 | 0 | 100,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 12 | د تدریسي ټولګیو پراختیا | 0 | 0 | 30,000 | 70,000 | 100,000 | 200,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 13 | ټوله پراختیایي لګښتونه/ناخالص عواید | 169,000 | 300,000 | 274,000 | 494,000 | 495,000 | 1,732,000 | 520,000 | 810,000 | 1,020,000 | 1,190,000 | 1,300,000 | 4,840,000 |
| 14 | عادي کلني لګښتونه / متفرقه عواید | 500,000 | 550,000 | 650,000 | 700,000 | 750,000 | 3,150,000 | 20,000 | 30,000 | 40,000 | 50,000 | 60,000 | 200000 |
| 15 | ټوله لګښتونه / مجموعي ناخالص عواید | 669,000 | 850,000 | 924,000 | 1,194,000 | 1,245,000 | 4,882,000 | 540,000 | 840,000 | 1,060,000 | 1,240,000 | 1,360,000 | 5,040,000 |
| | د لګښتونو او ناخالصو عوایدو میزان | | | | | | | | | | | | 158,000 |

پاي

تصويب:

د مالي او بانکي څانګي د ۱۴۰۱ تر ۱۴۰۵ کلونو ستراتيژيک پلان د مالي او بانکي څانګي (   ) نمبر جلسه کي په   /   /   نيته تصويب سو.

د مالي او بانکي څانګي د آمر نوم؛ عصمت الله قانع   لاسليک:   د څانګي مُهر:   نيته:   /   /

د مالي او بانکي څانګي د ۱۴۰۱ تر ۱۴۰۵ کلونو ستراتيژيک پلان د اقتصاد پوهنځی د ستراتيژيک پلان فرعي کميټې په (   ) نمبر جلسه کي په   /   /   نيته تائيد سو.

د کميټې د مسؤل نوم: ميرويس نظري   د کميټې د مسؤل لاسليک:   نيته:   /   /

د مالي او بانکي څانګي د ۱۴۰۱ تر ۱۴۰۵ کلونو ستراتيژيک پلان د اقتصاد پوهنځی علمي شورا په (   ) نمبر جلسه کي په   /   /   نيته تائيد سو.

د پوهنځی د علمي شورا د رئيس نوم: اسدالله انديال   لاسليک:   د پوهنځی مُهر:   نيته:   /   /